د ملګرو ملتونو د امنیت شورا مطبوعاتی اعلامیه

لاندنی د امنیت د شورا اعلامیه نن د امنیت د شورا د رئیس ښاغلی ژیرارد آرو (فرانسه) له خوا صادر شو:

نیو یارک ۱۷ اګست ۲۰۱۲ : د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړو د ۲۰۱۲ کال د اګست د میاشتې په ۱۴ او ۱۵ نیټه د افغانستان په بیلابیلو برخو کې همغږي کوونکي ترهګریزو بریدونو په کلکو ټکو سره د وغندل چې په دغو بریدونو کې زیات شمیر کسان مړه او ټپیان شول چې ډیر یی عام وګړي وو.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړي د قربانیانو کورنیو، د افغانستان خلکو او حکومت ته د خپلې ژورې خواخوږي مراتب وړاندې کوي او د ټپیانو د ژر تر ژره روغتیا هیله کوي.

د امنیت شورا ددغو پیښو په وړاندې د افغان ځواکونو د پر وخت او اغیزمنې غبرګون ستاینه کوي.

د امنیت شورا غړي ددغو غندونکو ترهګریزو بریدونو د تر سره کوونکو، تنظیموونکو ،مالي ملاتړو او مسئولیت قبلوونکو د عدالت منګولو ته د سپارلو غوښتنه کوي او دغه شان له ټولو هیوادونو څخه هیله لری چې د نړیوالو قوانینو او د امنیت شورا قطعنامې سره سم خپلو مسئولیتونو ته په پام سره په دې برخه کې له افغان مقاماتو سره په فعاله توګه پوره همکاري وکړي.

د امنیت شورا د طالبانو، القاعده او غیر مسئوله وسله والو ګروپونو له خوا عامو خلکو، ملي ځواکونو، نړیوالو ځواکونو ته چې له افغانستان سره د مرستې په موخه فعالیت کوي د ګواښونو د تکرار په اړه خپله سخته اندیښنه ښیي.

د امنیت شورا غړي یو ځل بیا ټینګار کوي ، ترهګري یو ناوړه او جنایی عمل دی چې پر هر ډول وي هر چیرته ، د هر چا له خوا تر سره شي د توجیه وړ نده او باید له مذهب، قوم ، تمدن او نژاد سره تړاو پیدا نکړي.

د امنیت شورا غړي یو ځل بیا د تر هګرو له خوا د ترهګریزو بریدونو د تر سره کیدو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور او د نړیولو قوانینو سره سم پر خپلو ټولو تعهداتو سره په ځانګړې توګه نړیوال بشري حقونه ، کډوالو او بشري حقونو قوانینو په رڼا کې پر خپل ټول وس او توان سره د کلکې او جدي مبارزې پر اړتیا باندې ټینګار کوي.

د امنیت شورا غړي باور لري چې هیڅ کوم یو ترهګریز برید نشی کولای چه په افغانستان کې د سولې چې افغانان یی رهبري پر غاړه لري ، ډیموکراسي او ثبات په وړاندی خند وګرزی کوم چې د نړیوالې ټولنې او افغان حکومت له خوا یی ملاتړ کیږي.

http://www.un.org/apps/news/story.asp?NewsID=42704&Cr=afghan&Cr1=terror